نثار احمد صمد

د ۲۰۰۸ کال نومبر

# هغه د تېلو پایپ لاین څه سو؟

## « تېل ډېر گران خو وینه ډېره ارزانه ده ! »

کله چې په ۱۹۹۱ کی د شوروی اتحاد ساه وخته او مړ سو ، نو امریکا د نړۍ یوازینی ستر ځواک او د کلي مشر سو . واشنګټن ډېر ژر ځینو سرابنو او جاه طالبانه هوسونو ته په غېږ ورغی تر څو د دې کوچنی دنیا « ملک » نه بلکی « پاچا » سی .
په ۱۹۹۷ کی جمهوریت غوښتونکو د « نوي امریکایی پیړۍ پروژه » را ویسته چې د هغې له مخی یې غوښته امریکا پر نړۍ مسلطه کړی . د دې طرحی « سوتې » هماغه « وار مخکی له واره » پالیسی وه چې په هغې سره یې غوښته یو یو ناخوښه دولت پر سر ووهی او مغزی یې ورمات کړی . دغی ښکاري ډلي د ۱۹۹۸ د جنوری پر ۲۶ ولسمشر کلنټن ته یو خط ولیږۍ چې په هغه کی یې څو عمده هدفونو ته د رسېدو په خاطر د لومړني گوزار په توګه د صدام حسین نسکورول غوښته تر څو په اصطلاح : الف – منځنی ختیځ د بې ثباتۍ څخه خلاص سی ، ب – په سیمه کی امریکایي پوځونو ته ګواښ رفع سی ، ج – د اسراییلو په وړاندی تهدید پای ته ورسیږی ، د – امریکایی دوسته عربی دولتونه د احتمالی نړېدو څخه بېغمه سی ، و – د نړۍ د تېلو پر ستره منبع انحصار تأمین او له خطره وژغورل سی . خو کلنټن دا خط په باک را نه وړ او ایسته یې وغورځاوه . په دې پروژه کی شپاړس کسان شامل وو چې دوه کاله وروسته د بوش په اداره کی خورا حساسو او لوړو دریځونو ته ورسېدل . د بوش د اداري زیاتره دغه چلونکي په نفتی کمپنیو او نفتی صنعت کی دخیل وو چې پخپله بوش ، د هغه مرستیال ډیک چینی ، کاندولیزارایس او د کابینې اته وزیران او نور لوړ لوړ مقامات پدې ډله کی شامل وو . هغوی نور نو په بېغمی سره خپل دا « پلان » د الماری د جعبې څخه راوکیښ او د عملی کولو ترتیبات یې پیل کړل خو هلته نابېره د سپټمبر د یوولسمی ټکه پیښه سوه . سپینی مانۍ دا پلان مؤقتاً د میز په جعبه کی کېښېنود تر څو لومړی یې د طالبانو او افغانستان چاره کړي وای چې له مخکی څخه یې لا زړه ورته ډک و ، ځکه : لومړی- طالبانو د ارجنتاینی بریډاس کارپوریشن سره د پایپ لاین ترون لاسلیک کړی و ، دوهم – متهم اسامه بن لادن یې په لاس نه ورکاوه ، دریېم – د ښځینه تعلیم او بشری حقوقو پایمالول یې د زغم له حده وتلي وو ، څلورم – تر ټولو مهمه دا چې هغوی د واشنګټن اطاعت نه بلکی مقاومت یې ورسره کاوه .

واشنګټن پدې تلوسه و چې د کسپین د حوزې او منځنی آسیا ستری نفتی او ګازی زیرمی د ځان کړی . د کسپین حوزه د منځنی آسیا د ترکمنستان ، ازبکستان او قزاقستان تر منځ پرته ده چې اټکل ۳۰۰ ټریلیونه فټ مکعب ګاز ، او ۱۰۰- ۲۰۰ بیلیونه بیرله تېل په ځان کی لری چې مجموعی ارزښت یې څه نا څه ۱۶ ټریلیونه ډالره کیږی . خو په وچه کی د ایسار منځنی آسیا څخه آزاد سمندر ته د دې ګاز او تېلو د ایستلو صرف دوې لنډې او ارزانه لاری ستنه چې هغه مخ پر پاکستان د ایران یا افغانستان لاري دي او بس . ایران خو د واشنګټن لپاره حرام او ناروا دئ . بس یوازی همدا افغانستان دی چې د واشنګټن ټوله پام یې ځانته اړولی و .

که لږ شا ته ولاړ سو نو و به ګورو چې طالبان د ربانی- مسعود د جابر رژیم د شر او فساد په نتیجه کی په ۱۹۹۴ کی را وپاڅېدل او په دوو کالو کی یې د کابل په شمول د هیواد ٪۸۰ خاوره ونیوله . ځینی کسان قصداً او یا هم

په بې خبرئ سره دا پاڅون د امریکا یا انګلستان او یا هم آی ایس آی پروژه بولی خو دا صحیح نه بلکی یو تهمت دئ . طالبان اصلاً د هغه ظلم او وحشت محصول دی چی جنګسالارانو پر هېواد مسلط کړی و .

په هر حال ، دا مهال په لویدیځ کی د لویو نفتی کمپنیو خپل منځی سیالئ د اوج په حال کی وې او هری یوې غوښته چی د کسپین د حوزې او منځنئ آسیا دغه « توره طلا » خپله کړی .
د شوروی تر مړینی وروسته لومړنئ کمپنئ چی سیمی ته راغله ، د ارجنټاین « بریډاس کارپوریشن کمپنئ » وه . هغوی په څېړنو او سروې ګانو پیل وکړ څو چی د ۱۹۹۶ په نوامبر کی یې د طالبانو سره دا قرارداد وکړ چی د افغانستان څخه به پایپ لاین تېروی . خو ډېر ژر امریکایی « یونوکال » شرکت د یو تاکتیک په توګه د عربستان د « دلتا آیل » کمپنئ سره لاس یو کړ او په ګډه را وړاندی سول . یونوکال د طالبانو سره خبری اتری پیل کړې څو چی په ۱۹۹۸ کی یې یو تړون ورسره لاسلیک کړ . یونوکال طالبانو ته ډېره پاملرنه کول او د هغوی یو هیأت یې ټکزاس ته ور وغوښت او یو کښته رتبه افغان مامور حامد کرزئ یې هم استخدام کړ . خو دا وخت اسامه بن لادن مداخله وکړه . هغه طالبانو ته مشوره ورکړه چی د امریکا سره دا قرارداد ایسته وغورځوی او پر ځای یې د ارجنټاین د نفتی کنسرسیوم لخوا بهتر وړاندیز ومني . واشنګټن هم په غُصه شو او د ځینو راپورونو له مخی یې طالبانو ته د جنګ اخطار هم ورکړ . د یونوکال او سپینی مانئ زړونه طالبانو ته ډک وو چی هلته ناڅاپه د ۱۹۸۸ په اګسټ کی په افریقا کی د امریکا دوه سفارتونه والوزول سول چی پر بن لادن تاوان سول . کلنټن ډېر ژر افغانستان د کروز په توغندیو وویشت او نور نو طالبان او یونوکال د تل لپاره سره بېل او حتی دښمنان سول . یونوکال د دې اقدام هرکلی وکړاو په بې صبرئ سره د نورو شدیدو کړنو په تمه سو .

په ۲۰۰۰ کی د جورج بوش په واکمنېدو سره واشنګټن بیا هم درې ځله د طالبانو سره ( په واشنګټن ، برلین او استانبول ) کی خبری اتری وکړې تر څو طالبان تطمیع کړی . خو هغوی تسلیمېدو او کوم قراردا ته نه حاضرېدل . همدا علت دئ چی واشنګټن ورځ تر ورځی د یوځی یرغل فیصلې ته نژدې کېدی . لکه څنګه چی د ۲۰۰۱ په اګسټ کی ( یعنی د سپټمبر د تروریستی حملې څخه یوه میاشت مخکی ) د خارجه وزارت یوې عالیرتبه ماموری « کریسټینا روکا » د اسامه بن لادن او نورو جدی مسایلو په هکله طالبانو ته په خپله وروستئ کتنه کی دا اخطار ورکړ چی « یا به زموږ لخوا د سروزرو غالئ قبلوی او یا دا چی د بمونو تر غالئ به مو لاندی کړو . » خو طالبانو د هغې اخطار په باک را نه وړ .

د ۲۰۰۱ د اکتوبر پر اوومه امریکا پر افغانستان حمله وکړه ، د طالبانو امارت او د بریډاس کمپنئ قرارداد دواړه پای ته ورسېدل او « یونوکال » پر بریتو لاسونه تېر کړل . خو بریډاس کمپنئ په امریکا کی پر یونوکال رسماً عرض وکړ او په دې تور یې محکمې ته راکش کړه چی په قرارداد کی یې مداخله کړې ده . بریډاس باالاخره په ۲۰۰۴ کی دا دعوه وګټله . بلخوا د ۲۰۰۲ د فبروری پر اتمه حامد کرزي او جنرال مشرف د دغه پایپ لاین غځولو تړون سره لاسلیک کړی و چی بیا د ډسمبر پر ۲۷ په عشق آباد کی د ترکمنستان ، افغانستان او پاکستان تر منځ د هغه د کار د پیلولو تړون پسی لاسلیک سو . خو د افغانستان په تېره بیا جنوب یعنی هغه سیمی امنیت د واشنګټن د بې پروایی او د کابل د بې کفایتی له امله ورځ په ورځ خرابېدئ چی دا پایپ لاینونه پکښی تېرېدل ، څو چی د ۲۰۰۵ په جنوری کی وویل سوه چی دا پروژه به یو کال وروسته یعنی په ۲۰۰۶ کی پیلېږی . د ۲۰۰۶ په اکتوبر کی د امنیتی وضعی د نورې خرابئ له امله وویل سوه چی دا پروژه به په افغانستان کی د ټینګښت او امنیت تر راستنېدو ډېر ژر وروسته پیل سی . خو څنګه چی طالبان ورځ په ورځ پیاوړې کېږی او مقاومت د امریکا په مشرئ د روانی بهرنئ نیونی په وړاندی توندېږی ، نو برخه والو هېوادو د دربیم ځل لپاره د دې پایپ لاین تړون د روان کال یعنی ۲۰۰۸ د اپریل پر ۲۶ بیا لاسلیک کړ او ویې ویل چی د هغه جوړښتي کار به دوه کاله وروسته یعنی په ۲۰۱۰ کی پیلېږی او تر هغه مهاله به ګواکی دا لاندیني کارونه کیږی :
الف – افغانستان به د ځمکنیو ماینونو څخه پاک کیږی ،
ب – حکومتی ، قومی او خصوصی امنیتی ډلی به د پایپ ساتونکو په حیث ایجاد او مؤظف کیږی ،
ج – طالبان به محوه کیږی ،
د – مطمیًنی مالی او اقتصادی مرستی به تهیه کیږی ،
خو دا معلومه نه ده چی په ۲۰۱۰ کی به د دې چړه پېدلی پروژې کار بیا د څو کالو لپاره وځنډېږی .

تر هغه ځایه چی په بریډاس کارپوریشن او یونوکال کمپنئ پوری اړه لری ، هغوی نن دواړې د نورو لویو کمپنیو لخوا خوړل سوې او هضم سوې دې . یونوکال د « شیورن کارپوریشن » له خوا رانیول سوه حال دا چی بریډاس د « بریټیش پټرولیم / اموکو » د ګډ کنسرسیوم برخه سوې ده . نو ځکه د افغانستان پروژه هم نن معلقه پاته ده . خو باید وویل سی چی ښایی شیورن یا بی پی /اموکو ، یا ایکسان موبیل ، اینرن او یا هم بل کوم نفتی کنسرسیوم په آینده کی د پایپ لاینونو دغی جنجالی او خوړمني پروژې ته را وړاندی سی .

البته دغه احتمالی پروژه ۷،۶ بلیونه ډالره بودجه غواړی او که بشپړ سی نو افغانستان به هر کال ۳۰۰ ملیونه ډالره عاید تر لاسه کړی . که دا پایپ لاین جوړ سی ، نو هغه به هر کال ۳۳ بلیونه فټ مکعب طبیعی گاز انتقال کړی . هند او پاکستان ته به برابر سهم ورکول کیږی خو افغانستان ته به کوچنی برخه رسیږی لاکن په زرگونو افغانان به په کارونو وگومارل سی . خو ځینی کسان په اغماض او ځینی په بې خبری یا بې توجهی سره ادعا کوی چی وگوری امریکا موږ ته دغسی خدمت کول غواړی مگر طالبان او پاکستان گواکی د هغوی د لاری خنډ کیږی او نه غواړی چی په افغانستان کی دغسی آبادی راسی . دلته ضد او نقیض انگېرنه نغښتې ده ، هغه دا چی نه امریکا او نه هم پاکستان د افغانستان په غم کی دی . بلکی امریکا او پاکستان دواړه په ټینگه غواړی چی دغه پروژه ځومره چی ممکنه وی ژر پیل سی او خپل ځانونه د دې تېلو او گازو څخه مشبوع کړی . هر څونه وخت چی دا پروژه ځنډیږی د دې دواړو هېوادو په زیان تمامیږی . دواړه اصلاً کوښښ کوی چی د طالبانو افغانی مقاومت دړی وړی کړی تر څو په بېغمی سره پر دغو پایپ لاینونو غېږ راوگرځوی . نه امریکا په پټه د طالبانو سره مرموز ارتباطات لری او نه هم پاکستان د طالبانو رښتیانی خواخوږی دئ . ټوله جهان یې وینی چی دواړه ( یو دلته او بل هلته ) لگیا دی دا مقاومت په بې رحمی سره ځپی . تریخ حقیقت خو دا دئ چی امریکا نن په نړی کی ۷۰۰ پوځی اډې لری او د هغو ٪۶۰ یې په هغسی سیمو کی اچولې چی دتېلو ځاگان دي او یا هم د پایپ لاینونو تر څنگ واقع دي . همدا علت دئ چی هغوی افغانستان ته ضرورت نه لری بلکی د افغانستان موقعیت یې د یو بل هدف لپاره په کار دئ ( چی همدا تېل دي ) . خو د دې کار په وړاندی یوازینی خنډ او مزاحمت همدا طالبانو جوړ کړی دی او بس ، نو ځکه په هره وسله او وسیله چی وی امریکا طالبان له منځه وړی نه دا چی گویا پټ ملگرتوب ورسره لری . همدا علت دی چی امریکا د افغانستان څخه داسی ژر نه وزی تر څو دا ارزانه تېل یې نه وی څښلی . هو ، امریکا نن هر ځای دا ثابته کړې چی د « ملیونونو لیټرو » تېلو لپاره په « ملیونونو لیټره » وینه تویوي که هغه د امریکایی پوځیانو وی او که د ځایی خلکو او که د هر چا هم وی . دا چی امریکا په عراق او افغانستان کی آن خپل ( ۴۸۰۰ ) پوځیان تلفات ورکړي ، نو څومره عراقیان او افغانان به یې وژلی وی ؟ همدا علت دی چی د هغوی لپاره تېل ډېر گران خو وینه ډېره ارزانه ده .

مشهور څېړونکی او د اوټاوا د پوهنتون پروفیسور مایکل چسودوفسکی لیکی چی د سپینی مانی لخوا « د ایران سره جنگ پر خپل حال پاته دئ . سره جگړه د چین ، روسیې ، او د هغوی د هغو ملگرو پر خلاف ده چی د شانگهای د سازمان ( ایس . سی . او. ) او هم د ټولیزه امنیت د جوړښتون ( سی . ایس . تی . او. ) غړي دي . ځکه نو افغانستان په هر حالت کی د امریکا د راتلونکي مهلکی او وژونکی بزکشی ډگر دئ . »

دا چی د اغیارو نقشه او اراده هر څه ده وی به ، لاکن که د بهرنیو نیونو او لاس کښېنولو رژیمونوپه وړاندی د افغانانو تاریخ عمیقاً ولولو ، او که هرڅومره هم د فعلی مقاومت اعتبار یا کریډیټ پردیو ته ورکړو بیا هم اراده ، تلوسه او مبارزه هغسی افغاني ده لکه په نولسمه پیړۍ کی چی د انگریزانو پر خلاف او په شلمه پیړۍ کی چی هم د روسانو پر ضد خالصه افغاني وه ، او د تېلو دغه احتمالي پروژه هم دومره کومکی او خیر خواهانه نه ده څومره چی سیاسی او مطلبي ده . والسلام